# خیبر : د تي تي پي د سمګلنګ کوشش ناکامه کړي شوے دے

امنیتي ادارو د خیبر ضلعې تیراه سیمه کښې د تي تي پي ترهګرو د سمګلنګ کوشش ناکامه کړے دے۔ د ډزو په تبادله کې دوه ترهګر وژل شوي او څلور نور ژوبل شوي او دوه امنیتي سرتیري هم شهیدان شوي دي۔

**تفصیلاتو له مخې، امنیتي ادارو د سمګلنګ په نیت د ترهګرو د تګ راتګ نشاندهیے او پرله پسې څارنې په ترڅ کې په ګنه ځنګل کې ترهګر تعقیب کړل، چې د ډزو په تبادله کې دوه ترهګر وژل شوي او څلور نور ټپیان شوي دي۔**

ټي ټي پي چې له سختو مالي ستونزو سره لاس او ګرېوان دی، په سمګلنګ او بهتی اخیستو کې لاس لري چې د دې لپاره هڅه کوي چې بېلابېلې سیمې د راهداریے په توګه وکاروي، خو امنیتي ادارې د ځایي قبایلو په مرسته په وخت د عملیاتو له لارې ترهګر له منځه وړي۔